مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست

۲۰۲۶/۰۲/۲۸

# تپل شوې جګړې

که د زړه خبره درته وکړم؛ له جنګه سخته کرکه لرم؛ آن د حیواناتو او مرغانو له جنګه.

جنګ آرمانونه قتلوي

جنګ یتیمان په میراث پرېږدي

کونډې بورې پرېږدي

خپګانونه رامنځته کوي

او...

خو بعضې دومره وحشي شي، چې مجبور دې کړي چې د زهرو دا ګوټ وکړې.

راځئ، د خپل ګاونډي مثال ورکړو:

دا هیواد ،چې لا هم زموږ هډونه د خپل بدن د مصنوعي غړو په توګه کاروي، له رامنځته کېدو سره سم یې له موږ کرکه درلوده. زموږ په اړه یې کرنلاره دا وه او ده چې باید دلته پیاوړی، خپلواک او د پاک ستان له نفوذه خوندي نظام او حکومت نه وي.

دغه جابر حکومت آن په ۱۳۲۸ کې چې د رامنځته کېدو یې ایله دوه کاله کېدل، زموږ د پکتیا مغولګي سیمه بمبارد کړه.

د داود خان د جمهوریت په لومړیو کلونو کې یې، زموږ له حکومته تښتېدلو مخالفینو ته پناه ورکړه او د افغانستان د تضعیف لپاره یې غېږ کې ونیول.

دا سلسله همداسې جاري وه.

ښاغلي حامد کرزي د خپلي واکمنۍ په مهال پاکستان ته له شل ځلو ډېر سفرونه وکړل؛ خو نتیجه یې ورنکړه. ولسمشر غني لومړۍ دوره کې، د دوستۍ لاس ور وغځوه، خو دې جابر حکومت په ځواب کې وخت نا وخت زموږ سرحدي سیمې بریدونو لاندې ونیولې.

دا دی اوس یې بیا د جنګ اور ته تیلې ورکړ، زموږ ملکي خلک یې شهیدان او ټپیان کړل او جنګ یې پر موږ تحمیل کړ.

لکه پورته چې مو د افغانستان په اړه، د دوی پالیسی ته اشاره وکړه، دا پالیسي به تر اخره همداسې روانه وي. که دلته هر نظام راځي، دوی به یې د کمزوره کولو هڅې کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

او د جنرال ضيا د دورې دا شعار به جاري وي:

Kabul must burn!

(کابل، باید وسوزول شي)

د مورږ پر وطن د تېرو جګړو په څير، دا تازه جګړه هم وتپل شوه.

خو، بنه دا شوه چي دا ځل زمورږ لاس آن د دوی په کور کې د دوی ګريوان ته ورسيده.

لکه څنګه چي د افغانستان په اړه د دوی پاليسي نه بدليدونکي ده، په کار ده مورږ هم يوه واحده پاليسي ولرو او هغه دا چي په ټول هوش د خپلې کمزورۍ نکتي په نښه کړو او د قوت لپاره يي کار وکړو.

د دي ماموريت پر وړاندي پراته ټول خنډونه په حکمت او اخلاص ليرې کړو.

ځان له احتياج او کمزورۍ وساتو، بلکي دومره يي پياوړی کړو چي د دوی سترګي رانه په هر حالت کي وسوزي.

**د يو اباد، پر خپلوپښنو ولاړ او سوکاله افغانستان په هيله!**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مورږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ